# لندي كيسي

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

## مظلومیت لنډه کیسه

په ګڼو ونو کي سړي منډي وهلي په تلوکي يي خپله ښى پښه درنه پسي اخيسته په مخ يي دوينوسره خاطه ښکاريده دونوله مينځ نه ووت دلويديځ لورته يي چټک قدمونه اخيستل ډغونډی ځنډي ته ورسيد ډزشو سړی شاپرتخته ولويد دغونډی له سرنه دوه دقوي متوخاوندان چي مخونه يي په نکاب پوښلي وو راښکته شول سړی يي له له لاسو ونيو اوپه کلکه ځمکه يي دشمال لورته کشاوه له شاورپسي دوينو سره خاطه ښکاريده سړی يي څه فا صله کش کړ ديوي څاه ځنډي ته ورسيدل دڅوروالي اندازه يي دسترګو په واسطه واخيسته ډيره نه وه کډی )ژوره( نکاب پوښو شاوخوا وکتل سړی يي ترلاسو ونيوڅاه ته يي وغورځول

* * *

**داسمان مخ تورو وريځونيولی وو دباران ميده ميده څاڅکودرباب غوندي منظمي نغمي جوړولي په څا کي پراته سړي سترګي وغړولي په چپ مټ کي يي له جوړشوي ټپ نه دوامداره وينه بهيدله دپورته کيدو هڅه يي وکړه خو دمه ورپه کي نه وه بيرته پرځمکه را پريوت سايي لنډه لنډه کيده د ورستي ځل لپاره يي هڅه وکړه دڅاه ديوال ورته تکيه شو په زحمت پاڅيد په ديوالونو کي له ايستلو زينو نه په استفادي دځمکي سرته راوخوت ښی لاس يي دچپ مټ په ټپ نيولی ووښی پښه يي درنه پسي اخيسته همداسي په خړه دښته کي ګوډګوډروان وو دلويي لاري سرته ورسيد وجوديي دزياتي ويني له بهيد وڅخه بي سيکه شوی وو په خاورويي ګونډي ووهلي مخامخ يي وکتل له لري نه يوموټرښکاريده دمخي په ښيښه يي دوامداره برپاکونه خوځيدل په زړه کي يي**

ketabton.com - The Digital Library

دهیلوډیوي بلې کړي ژوند ته یي تمه پیداشوه موټر ورو  ورو رانیږدي کیده ترڅوچي دسړي اوموټر ترمنځ ،یوازي څومتره فاصله پاته وه په موټرکي ناست ځوان له ښیښي نه سر راوویست ویي ویل کاکاخیرت دی سړي زګیروی وکړ له خولې نه یي غږ نه  و وت ځوان شاته مخ واړاو ملګروته یي وکتل ویي ویل ټپي دی ټول په یوځای له موتره ښکته شول سړي ته یي تکیه ورکړه ت رموټریي ورساوو ارام یي سیټ ته پورته ک وموټر حرکت وکړ

***

پولیس په څوکۍ کي ځان سم کړ تر خولې لاندي یي پکه ککری وګروله ناستوکسانوته یي وکتل ویي ویل ښښنه غواړم ترڅوچي ټپي په هوش نه وي راغلی موږ تاسوته اجازه نشودرکولی چي لاړشۍ ځکه دازموږ اوصول دي له ناستوکسانوڅخه یوه یي وویل
ستونزه نشته موږقانون ته احترام لرو پولیس دزنګ پرږټن ګوته ټینګه کړه په وره  کي وچ ډنګرسړی ودرید ویي ویل صیب امروکۍ پولیس ناستوکسانوته اشاره وکړه ویي ویل ترڅوچي ټپي په هوش راځي ترهغو دوی زموږ میلمانه دي ناست کسان دپولیس په خدمت ګارپسي روان شول شیبه ورسته خدمت ګار راغی سلام یي وکړ ویي ویل صیب له روغتون نه م وخ بر ترلاسه کړ ټپي په هوش راغلی پولیس په بیړه له څوکۍ نه جګ شو خدمت ګارته یی وویل میلمانه روغتون ته راورسوۍ خدمت ګار وویل سمه ده

ketabton.com - The Digital Library

صیب پولیس دروغتون په سالون کي چټک قدمونه اخیستل له مخامخ اطاق نه ډاکټر راووت پولیس تري پوښتنه وکړه ډاکټرصیب څه وخت مخکي یي چي روغتون ته ټپي راوړ ایا له هغه سره لیدای شم ډاکټر دهو په معنا سروخوځاوو مخامخ اطاق ته یي اشاره وکړه ویي ویل ّهلته دی څّه وخت مخکي په هوش راغی پولیس مننه وکړه داطاق په خواروان شو داطاق دروازه یي ورو خلاصه کړه په کټ کي بوډاسړی پروت وو سپینه ګڼه ږیره اونوراني څیره یي درلوده سترګي یي داطاق په چت کي ګندلي وي دپولیس په لیدویي ټکان وخوړ په کټ کي کیناست پولیس ښننه وغوښته مخکي ورغی ویي ویل دپولیسو قوموندان )......(یم څوکسانوچیرته ټپي موندلی وي اوتر روغتونه یي رارسولیی وي او ورسته یي موږته خبر راکو بوډاغلی ووپولیس وویل نوم مو

بوډاهماغسي چت ته کتل د و ره کړپ شو په بیړه یي شاته وکتل دپولیس خدمت ګار او ورسره دری تنه نور ځوانان ووپولیس بوډاته وکتل ویي ویل دوی پیژني بوډا دنه په ډول سروخوځاوو پولیس وویل ایادوی ستاپه ټپي کولوکي هیڅ لاس نه لري

دبوډاسترګي راډکي شوي په غریوکي یي وویل نه پولیس له خپل ځای نه پورته شو له ولاړوکسانو یي بخښنه وغوښته اوهغوی ته یي دتلواجازه ورکړه له خدمت ګارسره دري واړه یوځای ووتل پولیس په خپل ځای

کیناست سوړ اسویلی یي وایست بوډا ته یي وکتل هماغه شانتې یي په چت کي سترګي ګندلي وي پولیس ورو وویل ښاغلیه نوم موڅه دی پوډا ټکان وخوړ پولیس ته یي وکتل ویي ویل خیرګل وظیفه مو بوډاغاړه تازه کړه ویي ویل د نجیب په وخت کي تورن وم ورسته دهقان وم دبوډاستونی راډک شو دښې سترګي له کونجه یي اوښکه راورغړیده اودږیري په سپینو ګڼو ویښتانو کي ورکه شوه ورویي وویل خواوس هیڅ نه یم پولیس

ketabton.com - The Digital Library

وویل دکوم ځای اوسیدونکی یي بوډاترخه موسکا وکړه ویي ویل دومره پښتنوته څه ضرورت دی پولیس ببښنه وغوښته ویي ویل ښاغلیه غواړم پوه شم چي ولي په داسي حال یاست چاتپي کړی چامودوژلوهڅه کوله دچادښمني درسره ده که ستاسو دښمني له چاسره ده په دي هرڅه پوهیدل زمادنده ده څکه ددي سیمي امنیت زماپه لاس کي دی ا وزه نه غواړم چي زماپه سیمه کي دي کومه من في پیښنه ثبت شي زه غواړم په هرڅه پوه شم اوله تاسره مرسته وکړم بوډاوویل ته یي نشي کولای پولی س هسک وکتل ویي ویل کیسي اوریدلوته دي چمتویم بوډاخپله خبره تکرارکړه ویي ویل ته یي نشي کولای پولیس لاس هواته اوچت کوترسریي تاو کړ ویي ویل شاوخواسیمي زماترواک لاندي دي که تاته کومه ستونزه په کي پیښنه شوي وي حتمن درسره مرسته کولای شم دبوډا په شونډوپیکه موسکاراغله ورویي وویل سیمي ستا خوته دنوروترواک لاندي یي پولیس ته یي خبري خوند ورنه کړ ورو یي وویل څوک یادوي پوډاوویل زورواکان پولیس جدي شو ویي ویل څوک چي قانون ماتوي زه دهغوی پښي اولاسونه ماتوم ته یي پیل که بوډا وویل سمه ده کیسه یي شروع کړه یومازیگر له کوڅي نه شورماشور راته داسي لکه دڅوکسانوچي سره داوه )دعوه(وي دباندي ووتم یوه کلیوال زمادزوی گریوان نیولی وو سترگي یي سپیني راختلي وي په سترگوکي یي سره رگونه له ورایه ښکاریدل په زوره یي چیغي وهلي ولي بي غیرته خپله خورمورنه لري زوی مي په ویریدلي لهجه وویل زه بي گنا یم ما.. خبره یي نیمی پاته شوه کلیوال جتکه ورکړه پوري یي واهه دروغ مه وایه الاوالدین )علاوالدین(شاهد ده تم ه مي پیداشوه الاوالدین مي وراره ده دهوپه مانایي سروښوراوو ویي ویل طاهرماولیدستاسوخورته یي له لري ایشاري کو لي قریب مي وو بایدداسي یي نه وای کړي ناهیلی یي کړم نه به ناهیلی کی دم که په زوی کي مي گنا

ketabton.com - The Digital Library

وايي خوباوري وم زوی مي بي گنا ووكليوال مي په زوی ورخپړي کړي زارۍ مي ورته وکړي خونه يي اوريدي ولاړوكسانوته مي چيغي کړي نه يي اوريدي اه دغريب غږ به نوڅوک اوري شيبه ورسته كليوال سره لاړل دغريب اوبي وسه خيرگل زوی په سرو وينولړلی په خاوروکي پرروت وو چيغي مي ورته وکړي ځواب يي نه راکاوه لنډه داچي زوی يي را وواړه په جنازه کي يي يوازي ماماخيل راغلي ول دا دکوم خان مړی نه وو دغريب طاهرمړی وو هغه هم دبي عزتۍ په مرگ مړشوی وو درنو خلکونه غوښتل دهغه په جنازه ځان سپک کړي په لنډه موده کي يي مورهم پسي مړه شوه دزوی مرگ اودکلي دښخوپيغورونه يي ونه شوی زغملی دزوی له مرگ ورسته تربرو هم سترگه نه رانه كوله هغوی ناست همدي لحظي ته وو بوډاغلی شو پوليس وويل نور بوډاوويل يوه ورځ يي اخطار راکو ويل يي چي كلی پريږدي ترڅويي شتمني دوی ضبط کړي دولت ته مي اريظه )عريظه(وکړه خوونه چليده تربرونومي واسطه لرله له قضانه يي راوشړلم دغرمي دولس بجي کلي ته ورسيدم دتره زامن مي لكه وږي ليوان تيارپه دروازه کي رته انتظار وو چاړه يي راپسي راوښكه منډه مي کړه خودوی له مانه په منډه كي تيزول ويي نيوم په خوله يي يوسوک راکړ په ځمكه پرمخي پريوتم بيرته په زحمت له ځمكي پورته شوم توف مي کړل له نارو )لاړو(سره سري ويني گډي وي منډه مي کړه دغونډۍ څنډي ته ورسيدم يوازي يوډزمي واوريدپه ځان نه يم پوشوی ورسته مي سترگي رڼي کړي په څا کي وم همت مي وکړ له څامي ځان راوويست له ل ري مي يو موټر وليد رانژدي شو دمه راپه کي نه وه پاتي بي هوشه شوی وم ورسته مي سترگي رڼي کړي په روغتون کي وم پوليس حيراني سترگي بوډاته نيولي وي ورويي وويل شتمني يي ضبط کړه بوډا سوړاسويلی وويست ضبط يي نه کړه ضبط کړي يي ده پوليس سات ته وکتل دمازيگر

ketabton.com - The Digital Library

پنځه بجي وي بوډايي ترلاس ونيو له ځايه يي پورته کو دواړه له روغتونه ووتل په موټرکي سپاره شوو دپوليسوماموريت ته لاړل پوليس له پوډا سره يوځاى دفترته ننوت دزنګ بټڼه يي ټينګه کړه په وره کي وچ کلک جسد ودريدخدمت ګاروو پوليس وويل حواله دار)لس مشر( ته غږ وکه خدمت ګارووويل سمه دصيب خدمت ګارووت شيبه ورسته په ونه دنګ ځوان چي ښايسته توري غټي سترګي يي لرلي دفترته راننو عسکري سلام يي وکړويي ويل امروکی امیرصیب په څوکی کي ناست پوليس بوډاته اشاره وکړه ورويي وويل ظلم ورباندي شوی حواله دارپه پوښتنکي نظرورته وکتل پوليس په ځاى کي سم شو ويي ويل تربرويي شتمني ملک اوپټی ضبط کړي زموږمرستي ته اړتيالري کسان درسره واخله له ظالمانونه دخيرګل شتمني ورکړه له بوډانه يي دکلي ادرس اودپټيوموقيعت وغوښت ادرس يي ورکړ حواله دارله دفترنه ووت بوډاله خايه پاڅيد خوپوليس ورته دکينستو وويل بوډاپه خپل ځاى کيناست شيبه ورسته ټليفون وشرنګيد پوليس غوږته يوړ ورويي وويل بلي اميرصيب له هغي خوا غږ راغی دبوډا دوسيه وتړه بوډاکومه شتمني نه لري اودهّ ته هم دتلواجازه مه ورکوه پوليس بوډاته حيران حيران کتل پوليس جدي شو ويي ويل صيب هغه ځمکي موږوکتي دشاروالي په دفترکي دښاغلي خيرګل په پلار ګل ميرپسي صفت دي له هغي خواله غوسي دک غږ راغی ما حواله داربيرته روغوښت هيڅ هم نه دي ثبت څه چي مي وويل هماغسي وکه پوليس ورو وويل سمه ده صيب پوليس موبيل کيښ ود انديښمن وو بوډاورو وويل ښښنه غواړم ته مي راسره سرګردانه کړي پوليس يوڅه خی جل شو ويي ويل افسو س چي تاسره کومه مرسته نشم کولاى بوډاوويل زندان ته مي بيايي پوليس فکرپه م خه کړ شيبه ورسته يي وويل نه بوډاوويل دباندي به مي ژوند سخت وي سترګي يي راډکي شوي سوړاسويلی

ketabton.com - The Digital Library

يي وويست اه خدايه ډيردي مظلوم پيداکړم داسي به دي پيداکولم خودلته نه په دي ټولنه کي دمظلوم حق ظاليم خوري په وړه بهانه به دي زوی دورږني ته به سپيني سترگي ورته گوري څه به نشي کولای څوک به دي غږ هم نه اوري له قضابه دي شړي دخدای دين داسي پلی کوي چي يوازي دمالداروا وخانانوپه کي گټه وي دبوډاستونی را ډک ش وورويي وويل زورواکي به دي په زندان کي نه پريږدي دبوډاخبري درني وي له ځايه پاڅيد پوليس ته يي وکتل سترگي يي له اوښکوډکي وي ورويي وويل دخدای پامان بوډادپوليس له ماموريت نه ووت دلويي لاري په سريي چټک قدمونه اخيستل پښه يي په ځمکه کي له راوتلي تيږي سره ولگيده پړمخي ولويد خوله يي خلاصه وه سلگۍ يي بې واره ترشوندوراتلي بوډبيرته پاڅيد چټک روان وو له کلي نه لويديځ لورته په

شنوفصلونوکي تيرشو خپلي ځمکي ته ودريد سترگي يي ډکي وي زورويي غوښت بي وسه وو دخپلي ځمکي اختياريي نه لرل دسترگ وترکونج يي دمنوشنوونوته وکتل سري منې په کي ځوړندي وي بوډاخلاصه خوله له شنوفصلونونه روان شو اودښارلويه لاره يي ونيوه

پای

ketabton.com - The Digital Library

# بې مسؤلیته ځوان لنډه کیسه

په څوکۍ کې ناست ځوان د ټلفون په سکرین چټکې ګوتې تیرولې تورلاسونه او اوږدو نوکان یې لرل په لاس یې دشنو مریو لاس بند تړلی وو داوستاد خبره مې ذهن ته راغله په لاس کې ځنځیر یامرۍ اچول شرک ده همداشان ګوتمۍ یې هم یاده کړې وه ځوان به کله کله په چپ لاس کې نیولې دوهم ټلفون ته وکتل ور وبه یې وویل .

دري څلور داغتې ده یو څه وخت یې ونیو.

ځوړند سرېې پورته کړ ترڅنګ ولاړ ماشوم ته یې وکتل په خوند یې وویل دافیلم غټ ده تکریباٌ(تقریباٌ)دری ساعته ده ډیر وخت یې ونیو ماشوم دبغل په جیب کې اچولی لاس راوویست دغوږپه شاتنۍ برخه کې یې ښاښکۍ ښاښکۍ خولې وربائدې وچې کړې

.

وروېې وویل .

دا تاته روان دې که موږ ته

؟ ځوان وویل نه تاسوته.

د دوۍ مرکه مې ترډیروتعقیب کړه نوره حوصله راته نه وه پاتې دواړه دفلم په صفت نه مړیدل

ځوان ته مې وویل

دومره غټ غټ فیلمونه له کومه

کوې؟

خبروته یې خوله جوړه کړه

ketabton.com - The Digital Library

ويي ويل مازيگر چي دجومات مخي ته ورشم بس ټولوځوانانو زاپيا وي وصل کړي
وي نوي نوي فيلمونه يي پيداکړي وي هرچاته يي ليږي زه هم ځان ور شريک کړم په
رشخند يي وويل په دي طريقه يي پيداکوم .

اه عحيبه ده مسجد ته خلک دعبادت لپاره ځي خو داخلک ددي لپاره ځي چي نوي
فلمونه وليږي

ځوان ته مي وويل څومره وخت کيږي چي فلمونه گوري .

هماغسي يي ټلفون ته کتل لنډ يي  وويل له کوچنيني

راسي  ومي ويل

ور ور ياپلارمو درته ونه ويل چي داتاوا ن درته کوي تاسوبايد درس

ووایاست  ځوان وويل . نه مشروروربه مي ويل چي فلمونه مه گوره گټه نه
لري

درسونه دي ووايه خبروبه يي خوند نه راکاوو بله ورځ مي ديوترکي ثريال څوبرخي
وربانديي وکتي په ثريال کتلومي عادت کو بيا يي ماته هم ونه ويل چي مه يي گوره
څه فايده يي هم وکړه هغه داچي ټلفون يي اصلي وو په يو وارپه يي پنځوس شپيته
برخي ثريال راوړ مابه هم خوند ورنه اخيست په خبرو پسي يي ورو وخندل .

افسوس مي و کړ موږپه ماشومانوکي دومره استعدادلروچي غټ کسان له سمي لاري
واړوي که داوړتيا په صحيح ډول استفاده کيداى څومره به ښه واى په کم عمرکي به
يي هغه څه کول چي خاريجيان يي په ډيرعمرکي کوي ماشومان اوځوانان موانرژي
لري خوپه مکمل ډول بي  ځايه مصرفيږي .

خبروته مي راوگرځيدم .

ketabton.com - The Digital Library

ځوان ته مي وويل څومره فلمونه
موکتلي ويي ويل شاوخوا زر دوه زره .
په زړه کي مي وويل اه کم عقله ددي په ځای که دي دوه سوه کتابونه مطالعه کړي
وای په ډاډ سره مي درته ويل چي دټولني راتلونکی ته يي خبري مي پري نه کړي ومي
ويل
په هندي فلمونوکي بربنډي ښځي وي زموږ د کلتور)رواج(په خلاف تبلغات کوي
ولي مود دي فلمونوکتلو ته زړه ښه کړی اوبل گناه هم لري لنډ ځواب يي راکړ
لوڅ سر گرځيدل هم گناه ده دسړي لمونځ نه کيږي
ځان ته مي وکتل ريښتيايي ويل په سر مي خولۍ نه
وه
دبحث اړتيامي نه ليده چي سرتورسرلمونځ کيږي اوکنه هدف مي دځوان خبري وي
موضوع مي بدله کړه په خندامي ورغبرگه کړه دعلاوالدين ثريال دي کتلی دځوان
سترگي وځليدي په خونديي وويل هو شونډوته يي ورو حرکت ورکړ ويي ويل خو
هغه گناه لري ومي ويل ولي ؟
له ټلفون نه يي سر راپورته کړ ورو يي وويل
په رڼا ورځ جنت ا ود وغس) دوزخ (ته ننوزي په زړه کي مي راتيرشوو که په توره
شپه ننوزي بياتاسوته بهانه درجوړه شوه گنانه لري ځکه په توره شپه جنت اودزخ ته
ننوزي که هندوانو داخطر احساس کړ چي داثريال مسلمانان نه گوري يوازي به يي
رنگ تغير کړي جنت اودوزخ ته به تگ دشپي کړي بيايي په اسانۍ دربانديي کتلی شي
اه داخلک څومره مسؤليت نه پيژندونکي دي ورک يي که

ketabton.com - The Digital Library

ځوان ټلفون دبغل جيب ته واچاوو فکرمي وکړ چي د فلمونوتبادله يي ختمه شوه دځوان خبري راته مهيمي وي ومي ويل زدکړي موکړي دهوپه معنا يي سر وښوراوو

څومره؟

ترلسم صنفه )ټولګي(

ومي ويل اوس څه

کارکوي

څه يي ونه ويل ولاړ ماشوم ته يي وکتل په خوشکه يي وويل يودانه سګريټ را واخله وړوکي هلک خبره ورغبرګه کړه خلاص نشته يوکوتی )قوطی(به درته راواخلم ځوان وويل په ګټه ليونی هم پوهيږي خو سي خويي نه راکوي هغه ب ه هم اوس په پنځوس اوغانۍ )افغانۍ ( وي

پوښتنه مي تکرارکړه اوس څه کارکوي ورويي وويل

دهقاني  ومي ويل ولي دي مکتب پريښود ؟

ځوان په څوکۍ کي ځان سم کړپه چت کي تاويدونکي پکي ته يي وکتل ورويي وويل داسي مکتب پايده نه کوي سهاربه ولاړوترغرمي به سلابلا ناست وو ترسبک)سبق(به چغاډيره وه په لسم صنف کي وم خط مي له مخي سم نه سوای ويلی  سم يي ويل ټولګيوال مي ذهن ته راغلل له درس نه به يي ټوکي زياتي کولي دشاګرداوباندېڅي )کوچي(ترمنځ ډير توپير وي شاګرد بايد ډيراغيزمن شخصيت ولري ترڅو عام خلک هم دي ته چمتوشي ترڅوخپل اولادونه ښونځي ته وليږي خودوی داسي نه وه په ټولګي کي به يي داسي ټوکي کولي باورمي درلود چي دکلي لوپران هم مقابله نشي ورسره کولای

ketabton.com - The Digital Library

غټ غټ شاگردان وو پښتوخط به يي له مخي نشواى ويلى بند بند به په کي کيدل هان ځينوخويي املا لانه وه زده ورک يي که داخلک دي  خداى پوه کړي

دځوان خبرو ته راځم پلا ربه مي ويل چي لسم صنف ته ورسيدي خط دي نه کو زده دامکتب نه مکتب راويي گرځولم دهقاني ته يي وتړلم ويل يي زه په سپينه ږيره لگيايم بايد کار راسره وکړي درس خوهسي هم نه وايي بس له هغه تروسه دهقان يم  ځوان غلى شو فکرپه مخه کړم اه پلاربي چاره به درباندي ملامت )گرم(وي دهقاني ته يي تړلى يي دهغوزرگونه شاگردانو په اړه مي افسوس وکړچي پلار يي په درس پسي راليږي خودوى وخت په عبثياتو تيره وي دوى به هم يو وختي دهقانان وي له پلار ټولني اوځان سره به يي پوره خيانت کړى وي

**پای**

ketabton.com - The Digital Library

# بي پروايي لنډه کيسه

له مخامخ لرګيني دروازي نه ډله کسان راووتل. له شا ورپسي دښځوسوي کړيکي پورته شوي په ونه دنګ خوان چي ورو ورو ږيره يي لرله د دروازي په څنګ کي ولاړوو سري سترګي يي دډيري ژړا نښه وه ځوان به پ ه کټ پسي تلونکي ښځي په شاکو لي ت ورسرو بدي ورځي کولي نه په شاکيدي .

ځوان غټه لرګينه دروازه راپوري کړه د دروا زي په څنګ کي لکه عسکر ودريد دج ومات ترڅنګ څوکسان ولاړوو دکټ انتظاريي کاوه زه هم ورغلم له کسانوسره حيران ودريدم

شيبه ورسته ډله کسان زموږترڅنګ تيرشول موږهم له شاورپسي روان شو په کټ خاى نه کيده کله به دکټ اوږه يوه نيولي وه اوکله به بل همداسي روان وو له ي وڅه مزله ورسته دکلي لويي هديري ته ورسيدو کټ په ځمکه کيښودل شو په څومتره فاصله کي مړي خاوري پرتي وي مخي ته تلونکى کس له خاوروسره ولاړوځوانانو ته وکتل .

په زوره يي وويل قبر تياردى ؟

له مقابل لوري اوازراغى هوملا صاب) ملا صاحب(.

ترکټ شاوخ واګڼ خلک راتاو وو په يوه چوله کي مي ځان ځاى کړ کټ ته مي وکتل په کټ کي تک سپين ځوان پوروت وو په خوله کي يي سپينه پخته ايښي وه سترګي يي پړسيدلي وي پ ه سريي سپينه پټۍ تړلي وه فکر وړى وم په ځان نه پوهيدم شيبه ورسته مي په اوږه دچالاس ولګيد .

ketabton.com - The Digital Library

ورومي كتل

ورويي وويل

.

دزړه صبردرته غوارم .

ځان ته مي فکرشوپ ه مخ مي اوښکولاري جوړي کړي وي اودگرايوا ن په لوري يي منډي وهلي له ځايه پاڅيدم مخامخ ولاړکس ته مي وويل څه ورباندي شوي ورويي وويل تکريي کړی ....

څ وځوانان راغلل کټ يي اوړ وته پورته کو دقبر په لوريي يوړ زه هم ورغلم دقبرپه ژی ورته ودريدم هماغسي مي اوښکي له سترگو بهيدي نه پوهيږم خوز ړه مي ژړل دچاچي زړه ژاړي سترگي حتما ژاړي دځوان لحدته يي ورسته خښته ښوده يوازي يي دکفن سپينه څوکه ښکاريده خښته يي کيښوده دځوان کفن اومخ دتل لپاره پټ شوو قبرته مي وکتل داسي راته بريښيده چي قبر راته وايي دځان په حال وژاړه ته په هم يوه ورځ زماغيږته راشي دجهان غمونه پريږده خپل غم دي کوه وويريدم ....

ځوانان رامخته شول په قبرباندي خاوري اوښتي هرچاکوښښ کول چي يوبيل خاوره زياته ورباندي واچوي پردي س ړي به يوبيل خويار دوست اشنا به دوه بيله خاوره ورباندي اړوله سخته وه ډيره سخته ماژړل نه پوهيدم چي دځان په حال که دځوان په حال په بي روحه جسد خاو ري امبارشوي م لاصيب يوڅه وخت وغږيد خ لک يو غوږورته ناست وو ملاصيب له جهنمه دخدای ج له عذابو دقيامت له ورځي وغږيد دملاصيب غږيدا اوقبرته په کتو سخت وارخطاشوم له ځان سره مي وويل اې خدايه ته خوپه ماورحميږي سخت سفرمي په مخ کي ده په وار وار مي داويل ملاصيب خبري

ketabton.com - The Digital Library

خلاصي کړي د دوعالپاره يي لاسونه لپه کړل دهيواد اسلام اومړي لپاره يي اوږده دوعا وويله خلکوبه يوازي امين ورسره ويل دوعا پای ته ورسيده ډله خلک دکلي په خوا روان شول زه همالته ناست وم شيبه ورسته په هديره کي چوپه چوپتياوه دخړوقبرونو

سروته مات لرگي ولاړوو نيم خيري شوي زاړه دست ملونه بادرپول له لري نه مي دموټرسيکل تيزاواز واريدد شيبه په شيبه ا وازرانيږدي کيده دهديري په سر لوي لاري ته مي وکتل همااغه ځوان و وچي په غټه لرگينه دروازه کي يي ښځي په شاکولي له شاورپ سي غوټه دوري له ځمکي پورته شوي له هد يري په تيزۍ تيرش وو ترډيرو دموټرسيکل تيز اواز اوريدل کيده ورسته ورک شو بغل ته م ي وکتل په سپيره ډاگ کي غټه ځرخندی تاويده په زاړه قبرکي له کوچني سري نه خړه ځرمښکۍ راووته منډه يي واخيسته ترژيړي وچي ترخي لاندي شوه

**پای**

ketabton.com - The Digital Library

# لنډه کيسه

په تياره اطاق کي دلاسي بتۍ نرۍ رڼاښکاريده دميز په سر يوقلم اوکتابچه ايښي وو په څوکۍ کي ناست ځوان کتاب ته کتل کله کله به يي دکتاب په منځ کي ګوتي کيښودي قلم به يي ورپورته کړ په کتابچه کي به يي څه وليکل ورسته به يي بيرته کتاب خلاص کړ په لوستلو به يي بوخت شو ناڅاپه د وره غنجا پورته شوه دکوټي يه غولي دنګ ځوان ودريد دلاسي بتۍ سپينه رڼايي په سترګو کي ښکاريده تور ګڼ ويښته يي لړل وړي عينکي يي دپوزي په سر مازي تکيه کړي وي احمد وو دالماس ملګرى په غوسه يي الماس ته وويل ډير انتظارمو وکړ راځه ډوډۍ تياره ده نن سباډيري نخري درنه کيږي الماس دکتابچي په مخ پروت قلم ورواخيست ورو يي وويل زړه ته مي نه کيږي تاسو يي نوشيجان کړۍ احمد په مخامخ څوکۍ کيناست ويي ويل څه درباندي شوي داڅو ورځي بيخي بدل شوى يي ګوره له مايي مه پټوه د راز ملګرى مي يي هرڅه چي وي راته ووايه ستونزه به په ګډه حل کړو الماس قلم پورته کړ دغوږ شاتنۍ برخه يي ورباندي وګروله ورو يي وويل تاته پته ده چي دري مياشتي کورته نه يم تللى بل ازمويني مو هم رانيږدي شوي تلاى هم نشم که حقيقت راباندي وايي کورته مي يوڅه زړه ختلى ميرمن مي سترګو ته کيږي خداى خبر ښنګه به وي چي کله تري را روانيدم ناروغه وه ډير وخت وشو حال نه ورنه لرم چي ناروغي به يي ښنګه شوي وي احمد څوکۍ ته شا ووهله په کړس يي وخندل دواړه لاسونه يي به هوا کي وجنګول خندا يي زور ونيو الماس حيران حيران ورته کتل احمد خندا يوڅه راقابو کړه ويي ويل ښه داکيسه ده ما ويل چي سړي ځان ډير نيولى څه کيسه خو حتماًشته ګوره زوره وره هسي ځان په انديښنو مه خوره ښځه اودومره غم يي دخپل سر دواوي (دوعاوي)کوه که ښځه دي مړه شوه بله

ketabton.com - The Digital Library

وکه ښځي خوکمي نه دي له دي خبري سره دالماس سترګي ډنډ شوي اوښکي يي بي اختياره له سترګو منډي را واخيستي اودګريوان په لوري يي لاري جوړي کړي احمد ورو وويل ياره زړه دي مه خوره دومره دښځي سپی له ځانه مه جوړوه مهيمه خبره نه ده دښځي لپاره څوک اوښکي نه تويوي الماس لاس هواته پورته کو بيرته يي په تيزئ راخطاکړله ميز سره يي ټکر کو په ميز پروت قلم ورغړيد څمکي ته ولويد دکتابچي ورقي ګډي وډي شوي په غوسه يي وويل

ketabton.com - The Digital Library

# دبوري ارمان لنډه کیسه

دلمر ژیړي وړانګي دکوټې په غولي پرتي وي په خیرنه بړستن کي پټ ماشوم په بیړه په ځای کي کیناست په وچو ډنګرولاسو یي سترګي وموښلي له ځایه پورته شو د دالان په لوري یي منډه کړه په دالان کي بوډۍ ښځه ناسته وه په لاس کي یي رپیده نیولي وه ځای ځای غوړ چاپونه پري ښکاریدل ماشوم ورو وویل ادي چای تیار ده بوډۍ ماشوم ته وکتل ویي ویل هو زویه تیار دی له دي سره یي څنګ ته ایښي ترموز ته لاس کړ ماشوم ته یي پیاله ډکه کړه سپیره ډوډۍ یي ورته کیښوده ماشوم سوړ اسویلی وویست ویي ویل ادي دا ډیر وخت کیږي تریخ چای خورو بوډۍ په لاس کي نیولي رپیده تناره ته ورښکته کړه په رپیده هواره ډوډۍ دتناره په کله پوري ونښته پزه یي پورته کش کړه ورو یي وویل له کومه شي زویه په یوه ګوله وچه ډوډۍ پسي حیران یو بوره به له کومه کو ماشوم وویل ادي دملک زوی به اوس له خوږچي سره ډوډۍ خوري غلی شو له سپیري ډوډۍ څخه یي ګوله ورجلا کړه خولي ته یي کړه په ناهیلۍ یي دترخه چای غړپ پسي وکړ بوډۍ ته یي وکتل سترګي یي له اوښکو ډکي وي ورو یي وویل ادي خیر ده مه ژاړه بیا بوره نه غواړم دبوډۍ اوښکي په سلګیو بدلي شوي له ځایه پاڅیده ماشوم یي په سینه پوري کلک ونیو یوه شیبه یي وژړل ورسته غلي شوه ورو یي وویل ګوره زویه کوچنۍ خور دي ډیروخت کیږي ناروغه ده د دوا پیسي نه لرو خپله نه دژوندویم نه دمړو خوځه وکم روپۍ نشته چي دځان او وړي خور علاج دي ورباندي وکړم نو بوره به له کومه کو چي چای ورباندي خوږ کړو بوډۍ غلي شوه ماشوم دموریه ټټر ایښی سر راپورته کو ورو یي وویل ادي زه به غټ شم کاربه وکم ډیري روپۍ به وګټم بیابه هرسهار خوږ چای خورو په تا او وړي خور به دوا هم وکم بوډۍ په اوښلنو سترګو

ketabton.com - The Digital Library

دخيرن پړوني څوکه تيره کړه ويي ويل خداى خو لوى ده لاسون يي لپه کړل په زوره يي
وويل الله خو مي دي ترهغو نه مړه کوي ترڅومي ستا دلاس دوا نه وي خوړلي ماشوم
وويل ادي ناوخته شو ته اوبه اوډوډى راکه زه به ترهغو چاى وخورم بوډۍ په بيړه د
دالان له انګړه ووته وخت ووت بوډۍ بيرته راغله په لاس کي يي دټوکر خيرنه کڅوړه
اودرنو اوبو پلاستيکي بوتل نيولي وو له سپيره شکاره نه يي وچه ډوډۍ ور واخيسته
داوبو له بوتل سره يي يو ځاى په کڅوړه کي واچوله په خوابدي غږ يي وويل واخله
زويه ماشوم له ځايه پورته شو د دروازي په لوري يي منډه واخيسته دسراى په منځ کي
پښه نيولى شو شاته يي وکتل دزړي کلا په سرکي څوختيني کوتي ولاړي وي په سريي
تورکارغه ناست وو کاغ کاغ چيغي يي وهلي ماشوم بيرته روان شو دکاهداني ديوال ته
ولاړه اوږده تانده لښته يي ورسره واخيسته له دروازي ووت په کوڅه کي يي منډه
واخيسته همداسي مخته روان وو شيبه ورسته يوي غټي لرګيني دروازي ته ودريد
دروازه يي ټيله کړه کورته ننوت کاهداني ته نږدي ولاړو وږو ميږو ماشوم ته کتل هلک
ورغى کوانه ميږي يي له جارګي راوويستي له کوره بهر ووت دکلي له څو نوور کورو يي
هم ميږي راوويستي له شاورپسي روان وو دکلي لويه لار يي نيولي وه مخي ته يي ډله
ماشومان روان وو شيني بکسى يي په ملاوو پسي ځنګيدي ماشوم له کلي ووت دلاري
ځنګ ته په ديوال کي جوړ کندو ته ور وګرځيد په وړه کوانه پرتو خاورو ورټيټ شو
خپلي نازکي شونډي يي ورباندي کيښودي بيرته يي سر راپورته کو په غريو نيولي غږ يي
وويل ابا شهادت دي قبول شه له سترګويي مړي اوښکي راتوى شوي په ناهيلۍ له ځايه
پورته شو شاته يي وکتل ميږي لري تللي وي منډه يي پسي واخيسته په ستړي سا يي
ځان ور ورساوو له شاورپسي روان شو له لري نه غوټه دوړي ښکاره شوي ورو ورو

ketabton.com - The Digital Library

دماشوم په خوا رانيږدي کيدي شيبه ورسته يي تر ځنګ خړ موټر په تيزۍ سره تير شو غوټه دوړي له ځمکي ورپسي پورته شوي دهلک په زړو ځيري بوټو سپيري خاوري ور واوښتي ببر تور ويښته يي له سپيره پوټي ډک شول سترګوته يي ډنګر لاسونه ونيول سري سترګي يي ورباندي موښلي په بيړه يي په موټر پسي وکتل هماغه موټر وو چي کله کله به يي په پلارجان پسي کلي ته راښکته کيدل توپير همداوو چي په سر يي سپين بيرغ ټالي وهلي دهلک په سر دځه شي سيوری ورغی پورته يي وکتل په هواکي سپينه کوتره ګرځيده ښکته يي وکتل فکر په مخه کړی وو سوړ اسويلی يي وويست ورو يي ځنګ ته وکتل په سپيره ځمکه کي وچي بړبوکی باد رغړولي

پای

# Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*